## دټاکنيزولنډ مهالو کارکوونکودګومارولو کړنلار

دغه کړنلاردټاکنو د قانون په ۶۶ ماده کې د ورکړل شويو واکونو په پام کې نيولوسره دټاکنو د خپلواک کميسيون له خوا د ټاکنو د لنډ مهالوکارکوونکو د ګومارلو په موخه(له دې وروسته) تصويب شوی ده

**عملی ساحه**

**لومړی ماده:**

دغه کړنلاره د لنډ مهالو کارکوونکو په استخدام پورې اړوندې چارې په لاندينيو ټاکنو کې تنظيموي

1. د جمهوري رياست ټاکنې
2. د ولسي جرګې ټاکنې
3. دولايتي شوراګانو انتخابات
4. د ولسواليو د شوراګانو ټاکنې
5. دکلي دشوراګانوټاکنې
6. دښاروالانو ټا کنې
7. دښا روالیودغونډو ټاکنې

**د ټاکنو لنډ مهال کارکوونکي**

**دويمه ماده:**

د ټاکنو موقت کارکوونکي هغه اشخاص دي چې د بيلابيلو ټاکنيزو فعاليتونو د پرمخ بيولو په موخه په موقت ډول دټاکلي مزدپه بدل کې د کميسيون له خوا استخداميږي.

**دټا کنيزو لنډمهالو کارکوونکو ګوما رل**

**دريمه ماده:**

1. د ټا کنو لنډ مهال کارکوونکو دصفاتو اوشرايطو وړاندوينه چې په دغه کړنلارکې شوی ده د همدې شريطوپه پا م کې نيولو سره د کميسيون د دارالانشا له خوا د کميسيون دموظف هيت تر څارنی لاندې استخداميږي.
2. کميسيون په بيلابيلو ټاکنيزو بهيرونو کې د زياتو ښځو د ونډې په موخه ځانګړې شرايط او اسا نتياوې په پا م کې و نيسي
3. د کميسيون دارالانشا بايد کاري شرايط داسې وټاکي چې معلولين وکړاې شي د خپلو کاري فزيکي وړتياوو په پا م کې نيولوسره د ټاکنو په پروسو کې په پراخه توګه وګومارل شي.
4. د ټاکنيزولنډ مهالو کارکوونکو په استخدامولو کې بايد د امکان تر بريده پورې قومي انډول جنسيت اودکاري ظرفيت اصل رعايت شي.

**اوصاف اوشرايط**

**څلورمه ماده:**

(۱) د ټاکنو لنډ مهال کارکوونکي بايدلاندې صفتونه ولري

الف : د افغاني تابعيت درلودل،

ب : لږترلږه يې د اتلس کلنی عمر بشپړکړی وي ،

ج : د دندودلايحې متنا سب

د تحصيلي رسمي سندونو شتون ،

د : دګومارل شوې دندې متناسب د معتبر تضمين ا خيستنه،

که لنډ مهال کار کوونکي داسي عمل وکړي چي مالي یا معنوي زیانونه کمیسیون ته متوجه کړي ، تر سره شوي کړنه وارد شوی تضمین متا ثره کوي.
ه : د جرمي سوابقو نه لرل
و : کاري تجربه
ز : دهیواد په یوې رسمي ژبي د خبرو کولو وړتیا ،
ح : هغه کار کوونکي چي تړون یې له یوې میاشتي څخه کم وي ، خو د خد ما تي برخي کارکوونکي له دې امر څخه مستثنی دي .
(۲) د ټاکنیزو لنډ مهالو کارکوونکوپه استخدام کي د کمیسیون دارالانشأ وروستي شرایط په پام کي نیسي :
الف- د اعلان په پروسه کي بشپړ رونوالی، د غوښتنلیکونو ترلاسه کول ، شار لسټ کول، آزموینه اومصا حبه ، او دغوره درخواست کوونکي ټا کنه چي د شرا یطو وړ وي.
ب - د استخدام د ټولو پړاوونو تیرول او د هغي اړوندو سندونو برابرول .

**د ګومارلو موانع**

**پنځمه ماده:**

د ټاکنیزو لنډ مهالوکارکوونکو په توګه د لاندینیو اشخاصو استخدامول جواز نه لري:

1. د سیاسي ګوندونو مسؤلین، منسوبین او کاندیدان،
2. د دکاندیدانو نسبي خپلوان ( پلار ، نیکه ،مور، آنا، میرمن، زوی ،لور، ورور، خور، کا کا، عمه، ماما ، خاله اوسببي ( خسر ،خواښي، اوښی اوښینه،لور، ندرور) په اړوندي ټاکنیزي حوزي کي،
3. هغه افراد چي استخدامول یي د ټاکنیزوشکایتونو کمیسیون له خوا بند شوي وي ،
4. د ټاکنو د کارکوونکو( لومړۍ درجه) نږدې خپلوان،
5. هغه افراد چي کمیسیون مخکي د ټاکنیز ې سرغړوني په توګه له دندې څخه لرې کړي وي،

**د استخدام پر بهیر څارنه**

**شپږمه ماده:**

1. د کمیسیون دارالانشا د استخدام د لازیات شفافیت په موخه د مرکز او ولایتونو په کچه د استخدام د بهیر د څارني په موخه جدي تدبیرونه په پام کي نیولي.
2. د رآیي ورکووني او رآیي شمیرني په مرکزونو کي د ټاکنو د موقتو ساحوي کارکوونکو د استخدام څارنه د کمیسیون د مؤظفوکارکوونکو سربیره د ټا کنیزو چاراړوندو بنسټونوله خواهم تر سره کیږي.

**مسؤولیت او مواخذه**

**اوومه ماده:**

(۱) د لنډ مهالوکار کوونکود استخدام په بهیر کي د لاسوهني په موخه له وظیفوي واکونو څخه هرډول ناوړه استفاده د کمیسیون او د دارالانشا له خوا په غوڅه توګه څیړل کیږي .
مد (۲) د ټاکنیزو لنډ مهالوکارکوونکو د ګومارلو په پروسه کي د چارواکو دهر ډول کړنو اغیزه سرغړونه ده او موضوع د قا نوني تعقیب په موخه ا ړوند ار ګانونو ته راجع کیږي .
(۳) د استخدام دبرخي مسؤولین په دغه کړنلار کي له ټا کل شویو آرونو څخه دهر ډول تخلف اوسرغړوني اړوندپه ټولو کچو مسؤولیت لري .

**ازمايښتي دوره**

**اتمه ماده:**

۱ - د کمیسیون دارالانشا کولاې شي د موقتو کارکونکو د کارې وړتیاوو د څیړني لپاره یوه موده د آزمایښتي دورې په نامه وټاکي .
۲ - دټاکنیزوکارکوونکو له خوا د تخلف اوسرغړوني د کیدو په صورت کي د کمیسیون دارالا نشأ کولای شي د ګومارني تړون فسخه کړي .

**بې پرېتوب او د محرميت تعهد**

**نهمه ماده:**

الف – تاکنیز کارکوونکي مکلف دي ورځنۍ چارې په بې پرېتوب او غير جانبدارانه ټوګه سرته ورسوي اود دندو په ترسره کولو کې د مراتبودسلسلې په پام کې نيولوسره نه شي کولاې د کميسيون پرته له هيڅ دولتي او غير دولتي مقام يااداري څخه هدايت واخلي.

ب- دتاکنيزولنډ مهال کارکوونکي د دندې له اشغاله مخکې په رسمي او ليکلي ډول چې کميسيون يې مشخصوي ، ژمنه کوي چې د تاکنو په ټولو پروسوکې خپلې ورځنۍ دندې په ښه ټوګه اوداداري د اسرارو په ساتلو،صداقت او امانت دارۍ سره پای ته رسوي .

**انفاذ**

**لسمه ماده:**

دغه کړنلار د تصويت له نيټې څخه وروسته خپرېږي او نافذه ده.